

# کوډې په اسلام کې

نیک محمد بارک موسوي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نـــــوم: کوډې په اسلام کی

لیکـــــــوال: نیک محمد بارک "موسوي"

کمپوز او ډیزاین: نیک محمد بارک "موسوي"

کـــــــــــال: ۱۳۹۹ه ش

ادرس: کندهار/افغانستان

د لیکوال د کتابونو لړ: ۱۰

موبایل او واتسف: ۰۷۰۲۱۱۰۳۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

د کتاب پیژندنه ........................................ 3
د کوډو (سحر) تعریف ................................. 6
ایا کوډې ربنتیا هم سته؟ ............................. 6
د کوډو یا سحر ډولونه .............................. 10
امام راغب رحمه الله فرمایي دجادو څوډولونه دي: ........................................................ 12
د کوډو علم زده کول ................................. 15
د سحر په اړه قرآنی ایتونه .......................... 18
کوډې به څنګه پیژنو؟ .................................. 25
د جادو یا کوډو کونکي ................................ 28
د کوډګر استعمالونکی شیان ........................... 30
د جادو لپاره د جادګرانو طریقی ..................... 30
د جادو او کوډو کولو حکم ........................... 32
هغه تعویذونه چی معنا یی نه وی معلومه ...... 38
د کوډو څو نمونې ...................................... 39

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چې د سحر (جادو) څخه ځان په ساتل کيږي ....................................45
په کتاب کی د ځینو جملو مأخذونه ..............52

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کوډو (سحر) تعريف

د بدو کارونو په تر سره کولو کی د شيطان څخه مرستی ته کوډی، جادو او سحر وايی چی د يو چا رضا نه وی او د کوډو پواسيطه يی يو کار ته مجبوره کی،

امام قدامه رحمه الله وايی چي سحر هغه منتر ته ويل کيږي چي په ويلو ليکلو او په عمل کولو سره يي دبل چا بدن،زړه يا هم عقل اغيزمن کيږي،

يا هم سحر هغه عمل عجب دی چی د شيطانانو دراضی کولو لپاره ځنی کارونه ياهم کلمات وويل سی.

## ايا کوډې ربنتيا هم سته؟

بلی هو دا معلومداره خبره ده چي کوډې او کوډګران دواړه سته د ثبوت لپاره به يی لاندی د رسول الله صل الله عليه وسلم کيسه وړاندی کو: روايت دی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله رسول الله صل الله علیه وسلم د نبوت تبلیغ شروع کی نو ډلی ډلی خلک به په اسلام مشرفه کیدل هره ورځ به د کفارو حجم او اندازه کمیدل د مکی ستر یهودان ډیر وارخطا سول چی زموږ د نیکه ګانو دین یعنی یهودیت او بودایزم مخ پر زوال روان دی نو ځکه یی د رسول الله صل الله علیه وسلم د وژلو لپاره رکم رکم توطئیی جوړولی په مخامخ غذاوو کی به هم دوی مات وه او هیڅ یی هم نسوای ور سره کولای په یهودو کی ډیر ستر جادوګران او ساحران وه کفارو لومړی د یوی ښځی پواسیطه سره په رسول الله صل الله علیه وسلم کوډې وکړی خو هغو کم تاثیر ونښوی بیا د هیواد تر ټولو غټ کاهن او جادوګر چی ویل کیږی د لبید بن الأعصم په نامه وو ورغل هغه ته یی وویل چی موږ تاته چی ته غواړی هر څه درکوو دومره مال او دولت به درکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ستا اووم او اتم پښت به یې لا نکې خلاص خو بس ته دومره وکه چې محمد صل الله علیه وسلم را ووژنه، لبید بن الأعصم د پیسو په مقابل کې پر رسول الله صل الله علیه وسلم تر ټولو ستر جادو وکې کله چې یې جادو مکمل سو نو رسول الله صل الله علیه وسلم ډیر سخت ناروغه سو تر دی حاله ورسیدی چې د ځایه نسوای ولاړیدلای داسې وو لکه یو څوک چې یې په مبارک زړه باندی ستنی ور ننباسې تر څو ورځو سختو ناجوړیو وروسته یوه ورځ جبریل امین ورته راغلی او ورته یې وویل: چې الله جل جلاله پر تا سلام وایې او فرمایی چې یهودو په تا باندی کوډې کړیدی او په فلانکې څاه کې یې زړولې دی، رسول الله صل الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله تعالٰی عنه ته وویل چې ورسه په فلانکې څاه کې یهودو د کوډو تعویذ زړولې دی هغه راوړه، حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

علی رضی الله تعالٰی عنه هم د نبنانی سره سم هغه څاه ته ورغلی او هغه د کوډو تعویذ یی رسول الله ته راوړی رسول الله صل الله علیه وسلم ولیدل چی پر دی تعویذ باندی شاوخوا ستنی ننویستل سویدی، جبریل امین و رسول الله صل الله علیه وسلم ته وویل چی الله جل جلاله پر تا دا دوه سورته (سورة الفلق او سورة الناس) نازل کړل او فرمایی چی کله هره ستنه راکاږی نو یو یو وار دا سورتونه وایه، کله چی یی لومړی ستن راوکښل نو رسول الله صل الله علیه وسلم ډیر په استراحت سو کله چی یی ددی د کوډو د تعویذ څخه ټولی ستنی وایستلی نو رسول الله صل الله علیه وسلم سمدم سو او په دی سره یهود بیا خدای شرمینده کړه. {الدر المنثور ج۶ ص ۴۱۷}

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځينو روايتو کي راغلي دي چي د لبيد بن عاصم لوڼو په رسول الله صل الله عليه وسلم کوډو کړي وي هغوی د رسول الله صل الله عليه وسلم ږمنځ پيدا کړی وه په هغه کي د رسول الله د ږيری مبارکي وريښتيان وه هغوی هغه وريښتيان په کوډو کي استعمال کړه په هغه سره رسول الله صل الله عليه وسلم سخت مريض سو يو کار به يي کړی وو خو هير به يي وو......

اوس ددی څخه موږ ته معلوميږی چي کوډي ربنتيا هم سته او په رکم رکم طريقو سره کيږی.

## د کوډو يا سحر ډولونه

1 . سحر تخيل

2 . سحر حقيقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سحریا جادو تخیل یو پخوانی بشري(انسانی) عمل دی. چې د همدي عمل پواسطه فریب او چل بازی په ډول خلکو ته بیله واقیعته ښکاره کیږی.

سحرحقیقی هغه عمل دی چې دجادوګر(کوډګر) لخوا د غوټو یا تعویذ په شکل نوشته کیږی چې د یوه انسان د یوخاص عمل لپاره او یا خاص اندام باندی اجراکیږی چې په هغه سره انسان په مختلفو امراضو او مشکلاتو اخته او حتی په مینځ کی د میړه او ښځی ، کورنۍ ،ورونو او دوستانو د جدایي سبب کیږی.

سحر حقیقی خپله پرډیرو اقسامو ویشل سویدی چې یو څو ډولونه به یې درته ذکر کو.

1 . د تفریق(جدایی) سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

2 . د محبت سحر

3 . د واده د ځنډ سحر

4 . د وطی د بندیدو سحر

5 . د خوف(بیره) سحر

6 . د سحر جنون (لیونتوب)

## امام راغب رحمه الله فرمايي دجادو څوډولونه دي:

لومړی ډول یی نظر بندي یا شعبده بازي ده: ددې ډول جادو هیڅ بنسټ نسته هر ډول شوخ او چالاک انسان پخپله چالاکي سره داسي څه کولای سي چي دهغه له لیدلو او په هغو باندي په پوهیدلو سره دعامو خلکو نظرونه او عقلونه پاتي راغلي وي.

د مسمریزم پوهان چي دخپل معمول په دماغ کومه اغیزه اچوي هغه هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــورتني ډول کـــــي ګـــډدی. د اعـــــراف پـــه ســــورت کــــي د مصـــــر د جــــادوګرانو پــــه اړه ویـــل ســــوي (هغـــوي د خلکـــو پــــه ســــترګو جــــادو وکـــی) پــــه ســــورت طـــه کــــي راغلــــي (دهغـــوي دجــــادو لــــه املــــه د حضــــرت موســــی علیــــه الســــلام پــــه خیــــال کـــــي داســــي راغلـــــل چـــــي د رســـــیو مـــــاران ځغلـــــی) مانــــا داچــــي جـــــادو ګرانــــو چــــي کــــومي رســــی او لاټـــــی اچــــولي وې هغـــــه نــــه خــــو مـــــاران ســــوي وو او نــــــه یــــي هــــم ځغســــتل بلکـــــی دحضـــــرت موســـی علیـــه الســـلام قـــوت خیالـــه دهغـــوي لـــه کــــړو نــــه اغیـــــزمن ســــوی وو او هغــــه ځــــه ورتــــــه د ځغلیــــــدونکی مـــــارانو پـــــه څیــــــر ښکاریدل.

دوهـــم ډول جــــادو: هغـــه دی چـــي پـــه هغـــه کـــي لـــه شـــیطانانو څخـــه کـــار اخســـتل کیـږي او د ډول ډول کـــــړو وړو پـــــه پایلـــــه کـــــي د شــــیطانانو نزدیکــــت او انــــدیوالي تــــر لاســــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي په سورة البقره کي راغلي چي (بلکی شیطانانو کفر وکی چي خلکو ته یي جادو ور زده کاوه ).

د جادو دریم ډول: د کوم په اړه چي دجادو گرانو دعوه ده چي له امله یي موږ د شیانو ماهیت او حقیقت بدلولای سو أن تردې چي له انسان نه آس یا کوم بل حیوان جوړولای سو ، لیکن د اهل حقو څیړونکو پو هانو په اند دا له حقیقت نه لري او بې بنسټه دعوې دي.

په عام عرف کي هم هغه څه ته جادو وایي چي له شریعت نه پرته پکښي له شیطانانو نه دمرستي داخیستلوپه پایله کي په نورو اغیزه کوي.
له شیطانانو څخه د مرستي د تر لاسه کولو لپاره جادو گران شرعي حدودو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښو لاندي کوي په نجاست کي ککړ،دښنه او بد،حلال او حرام ، روا او ناروا تر منځ توپيرونه له منځه وړي آن تردې چي د اړتيا په مهال خو غيرالله ته تر عبادت کولو او په ځينو مواردو کي د معصومو ماشومانو د وينې تر تويولو پوري خبره رسيږي . نعوذ باالله من ذلک.

## د کوډو علم زده کول

د جادو د تعليم او تعليم په ذرايعو کي د موجوده خرابيو سربيره د جادو په موخو کي هم ډيري خرابۍ موجودي دي ،په عمومي توګه جادو د دوو زړونو تر منځ دجدايي راوستلو ، مينه په نفرت بدلولو،دوستي په دښمني بدلولو ، د خاوند او ميرمني تر منځ دجدايي راوستلو ،چاته د مال او ځان تاوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وررسولواو ځينو نورو مفاسدو لپاره کارول کيږي .

په جادو کي د همدې اعتقادي او عملي خرابيو د موجودوالى له امله د جادو زده کړه او چا ته ور ښودل ،او په هغه باندې عمل کول مکمل حرام او ناروا دي ، بلکه دجادو ځيني داسي صورتونه هم سته چي له امله يي سړى آن کفر ته رسيږي.

په ابو داود کي له حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه روايت سوى (چا چي علم نجوم زده کړ هغه د جادو گري يوه څانگه زده کړه اوس نو د هغه خوښه ده چي څومره زده کوي زده دي کي ) .

امام ابن قيم فرمايي په جادو کي دمهارت تر لاسه کولو تړاو تر کفري او شيطاني کړو وړو پوري دى ، ځکه خو هم هغه څوک چي په کفر، شرک ، نجاست او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خباثـــت کـــي ککـــړ او لـــه الله تعـــالی، رســـول الله او لـــه اهـــل ايمـــانو ســـره پـــه دښـــمني کـــي ځـــومره مخکـــي وي هغـــومره يـــي جـــادو هـــم اغيـــز مـــن وي ، لـــه همـــدې املـــه د بـــت پرســـتو جـــادو د اهـــل کتـــابو تـــر جـــادواو د يهـــودو جـــادو بيـــا د هغـــو کســـانو تـــر جـــادوچي د اسلام دعوه کوي ډير اغيزمن وي.

علامـــه ابـــن خلـــدون فرمـــايي ( لـــه جـــادوګر نـــه د ښـــيګڼي صـــدور نـــا شـــونی دی ،او نـــه هـــم جـــادوګر جـــادو د ښـــيګڼي پـــه چـــارو کـــي کارولای سي .

لـــه قرآنکـــريم ،نبـــوِي احـــاديثواو دســـلفو لـــه کتـــابونو نـــه دا پـــه ډاګـــه کيـــږي چـــي جـــادو حـــرام، کفـــر او شـــرک دی ،او زده کـــول او ور زده کـــول يـــي دپـــالونکي ځښـــتن غضـــب تـــه بلنـــه ورکـــول دي او پـــدې کـــي ددواړو نړيو تاوان دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خــو پــه ډيــر افســوس ســره ښــايي ووايــو چــي پـــه جـــادو کـــي ســـره لـــه دې ټولودنيـــوي او اخــــروي تــــاوانونوځيني مســــلمانان (پــــه ځــــانګړي ډول ميرمنــــي) جــــادو ګرانــــو تــــه ځـــي او لـــه هغـــوي نـــه د خپلـــو نـــاوړو کـــړو وړو د پـــوره کولـــو پـــه موخـــه تعويـــذات کـــوي او دهغـــوي پـــه خبـــرو يقـــين کـــوي او ددې څــــه پــــه تــــرڅ کــــي جــــادوګرانو تــــه نذرونــه هــم ورکــوي بلکــه پــه ځينــو مهــالونو کـــي خـــو د ماشـــومانو وينـــه هـــم تويـــوي او هــر نــاروا عمــل کــوي آن تــردې چــي کلــه نــا کلــه خــو خپــل پــت ،ايمــان، مــال او متــاع تــر جـــادو ګرانـــو جـــاروي . نعـــوذ بـــاالله مـــن ذلک .

## د سحر په اړه قرآنی ايتونه

### لومړی ايت

وَاتَّبَعُـــوا مَـــا تَتْلُـــوا الشَّـــيٰطِينُ عَلٰـــى مُلْـــكِ سُـــلَيْمٰنَ ۚ وَمَـــا كَفَـــرَ سُـــلَيْمٰنُ وَلٰكِـــنَّ الشَّـــيٰطِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ
عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هٰرُوتَ وَمٰرُوتَ ۚ وَمَا
يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتّٰى يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ
فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ
بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ
مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا
يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ
اشْتَرٰىهُ مَا لَهُۥ فِى الْءَاخِرَةِ مِنْ خَلٰقٍ ۚ
وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا
يَعْلَمُونَ.

او په دې لړ کښي يې د هغو شيانو پيروي وکړه، چې شيطانانو د سليمان (ع) د سلطنت د نوم په اخيستلو وړاندي کول. په داسي حال کښي چې سليمان (ع) هيڅکله کافر سوی نه و، او د کفر مرتکبين خو هغه شيطانان وه چې خلکو ته يې کوډي ښودلې، هغوی هغه څه تعقيبول چې په بابل کښي پر دوو پرښتو هاروت او ماروت نازل سوي وه. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

داســـي حـــال کښـــي چـــي هغـــو (پرښـــتو) بـــه چـــي هـــر کلـــه چـــا تـــه هغـــه ښـــودل، نـــو لـــومړی بـــه يـــې پـــه ډاګـــه دا خبـــره ورتـــه کولـــه: "ګـــوره! کـــه مـــوږ يـــوازي د ازمېښـــت لپـــاره يـــوو، نـــو مـــه کـــافر کيـــږه." - بيـــا هـــم دې خلکـــو لـــه هغـــو څخـــه هغـــه څـــه زده کـــول چـــي پـــه هغـــو ســـره د مېـــړه او ښـــځې تـــر مـــنځ بېلتـــون راولـــي. ښـــکاره وه چـــي د خـــدای لـــه اجـــازې پرتـــه هغـــوی پـــه دې وســـيله هيچـــا تـــه هـــم ضـــرر نســـو رســـولای؛ خـــو لـــه دی ســـره ســـره يـــې داســـي څـــه زده کـــول چـــي پـــه خپلـــه د هغـــوی لـــه پـــاره ګټـــور نـــه؛ بلکـــې زيـــانمن وه. او هغـــوی تـــه ښـــه معلومـــه وه، چـــي کـــه څـــوك ددې شـــي خريـــدار ســـي، د هغـــه لپـــاره پـــه اخـــرت کښـــي هـــيڅ ونـــډه نســـته. څـــومره ناکـــاره ســـودا ده چـــي د هغـــې پـــه بـــدل کښـــي هغـــوی خپـــل ځانونـــه خـــرڅ کـــړل؛ کاشـــکې هغـــوی وربانـــدې پوهيدلای.[سُـــوْرَةُ البَقَـــرَة : 102]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم ایت

وَجَـــآءَ السَّـــحَرَةُ فِرْعَـــوْنَ قَـــالُوٓا إِنَّ لَنَـــا لَأَجْـــرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِينَ.

همداســـي وســـول او كـــوډګران فرعـــون تـــه راغلـــل، هغـــوی وويـــل: "كـــه مـــوږ برلاســـي ســـو، نـــو مـــوږ تـــه خـــو بـــه ددې مكافـــات هـــرو مـــرو راكـــړل سي؟"[سُـــوْرَةُ الأعـــرَاف : 113].

## دريم ایت

قَـــالَ أَلْقُـــوا ۖ فَلَمَّـــآ أَلْقَـــوْا سَـــحَرُوٓا أَعْـــيُنَ النَّـــاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ

موســـى (ع) ځـــواب وركـــړ: "تاســـي يـــې وغورځـــوئ." - هغـــوی چـــي د خپلـــو منترونـــو پـــه ويلـــو (خپـــل رســـې او لكـــړي) وغورځـــولې، نـــو پـــه ســـتركو يـــې جـــادو وكـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زړونه يې په وېره کښې واچول او ډېري غټې کوډي يې وکړې.[سُوۡرَةُ الأعرَاف : 116].

## څلورم ايت

وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سٰجِدِينَ

او کوډګران پر سجده پريوتل،[سُوۡرَةُ الأعرَاف : 120].

## پنځم ايت

وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ.

هغوی موسی (ع) ته وويل: "که ته پر موږ د کوډو کولو لپاره هره نښانه راوړې، موږ ستا د خبري منونکي نه يوو."[سُوۡرَةُ الأعرَاف : 132].

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم ایت

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِندِنَا قَالُوٓا إِنَّ هَٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِينٌ.

نو کله چي زموږ له لوري څخه حق د هغو مخي ته راغی، نو وې ویل چي دا خوښکاره کوډي دي.[سُوۡرَةُ يُونس : 76].

## شپږم ایت

قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ السَّٰحِرُونَ.

موسی (ع) ورته وویل: "تاسي حق (رښتیني معجزې) ته دا وایاست چي کله هغه ستاسي مخي ته راغی؟ - ایا دا کوډي دي؟ په داسي حال کښي چي کوډګران بریالیتوب نسي پیدا کولای."[سُوۡرَةُ يُونس : 77].

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم ایت

فَلَمَّآ أَلْقَوْا قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ السِّحْرُ ۖ إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ.

نو کله چي هغوی خپل منترونه (لکړي او پړي) واچول، نو موسی (ع) وویل: "دا څه چي تاسي اچولي دي، دا کوډي دي. الله همدا اوس دا باطلوي، د مفسدانو کار ته الله سمون نه وربخښي،[سُوۡرَةُ یُونس : 81].

## اتم ایت

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کښې همداسې وشول، چې ټول کوډګران په سجده پرېوتل او غږ يې وکړ: "مونږ د هارون او موسی رب ومانه."[سُوۡرَةُ طٰه : 70].

او داسې نور زيات ايتونه سته چې د کوډو په اړه نازل شويدي چې پکښې کفار هم په دې باور دي چې کوډې شيطاني کار دي دلته همدومره ايتونه کفايت کوي چې موږ وړاندې کړه.

## کوډې به څنګه پيژنو؟

څنګه به وکولای شو چې کوډې وپيژنو ددې مسئلې د حل لپاره به لاندې د کوډو مثالونه راوړو:

1- کوډې چې په چا کيږي نو د کوډو پر کاغذ به د هغه نفر او د هغه د مور نوم وي البته په ځينو حالاتو کې نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- په کوډو کې د شيطانانو نومان وی يا هم کله کله د ملايکو نومان هم وی چې غلطه استفاده ځنی کوی،

3- کوډی ځنی وخت د اشکالو په شکل وی د مثال په ډول: † ,⊂, ∈ X

4- په ځينو کوډو کې د قرانکريم ايتونه د يو شکل په رکم ليکل سوی وی مثال د قرانکريم يو ايت يې د انسان په شکل کښلی وی يا د حيوان په شکل يې کښلی وی يا د شيطان په شکل،

5- کوډی زياتره وخت ښخيږی يعنی ځنی کوډی چې ښه کار وکی نو بايد په قبر کی يا هم په يو زوړ ځای کې يا هم د هغه کس تر بالښت لاندی چې کوډی په کيږی او کله هم په څاه کې ښځيږی چې په دی سره د کوډو تاثير نور هم ډيريږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

6- په کوډو کې څنې وخت د هغه کس چې دا کوډې په کيږي د سر وريښتيان يا هم د کالو يو ټوټه استعماليږي،

7- څنې وخت د کوډو سره ستن، قلف، يا هم نور شيان ور سره وي چې ستن د يو چا د وژلو يا هم د ژوند څخه د بيزاره کولو لپاره وي، قلف د يو چا اړيکې خرابولو لپاره وي .....

8- څنې وخت کوډګران د کوډو د کولو لپاره د حيوانانو وينه هم غواړي چې شيطانانو ته يې وړاندې کې او هغوی په خوشحاله کې خو څنې وخت په وينه دا کوډې هم ليکې او د هغه چا څخه چې دی کوډې ورکوی د جالبه حيوانانو غوښتنه کوی د مثال په ډول کوډګر وايي چې که ښه تعويذ غواړي نو توره چرګه راوله يا هم چاغ پسه راوله دا فرمايش د شيطانانو وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

9- زیاتره کودي په مربع ډوله خانو کې لیکل کیږی او خاص عددونه لری،

10- هغه کسان چې کوډګر ته ورځي او کوډي په کوی ځنی کوډګران د تعویذ د بڼه کار کولو لپاره ورته وایی چې څو ورځې به اوبو ته نه نیږدی کیږی یعنی څو ورځي به ناولی ګرځی،

11- ځنی کوډي شرط لری چې باید وسوځول سی او دود کړل سی،

## د جادو یا کوډو کونکي

کوم کسان چې جادو کوی یا هم کوډي کوی هغوی داسی یو کلمات وایی یا یی لیکلی چې شیطان د ځانه راضی او خوشحاله کی کله چې شیطان راضی کی نو بیا هغه دده هر ناروا خواهش پوره کوی د مثال په ډول د کوډو کولو یو شرط دا هم دی چې کوډګر به

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو څو ورځې او دوامداره په جنابت او ناولیتوب کې ګرځي یا هم داسې کلمات ویل چې کفري وي او شیطان دده څخه راضي سي ځنې کوډګران د حیض په وینه باندې یا هم په منی باندې قرانکریم لیکي العیاذ بالله، ځنې بیا د انسانانو په وینه باندې قرانکریم یا نور کفري کلمات لیکل دا ټول هغه اعمال دي چې شیطان پرې راضي کیږي ځکه نو علماء کرام وایي چې دا کوډګران او جادوګران د مردارو شیانو سره ډیر تعلق او مینه لري، عمومًا کوډګران هغه شیان زیات استعمالوي چې د شیطانانو خوښ وي لکه وینه، منی، د حیض وینه... یا هم دوي زیاتره وخت هغه شیان خوښوي چې تور وي ځکه چې تور شیان د شیطان خوښ دي مثال زیاتره کوډګران د تورو حیواناتو غوښتنه کوي ځکه چې دا د شیطان فرمایش دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کوډګر استعمالونکی شیان

کـوډګران چـی کلـه پـه یـو چـا کـوډې کـوی نـو د هغه نفر دا لاندی شیان استعمالوی،

1- د انسان د وجود د کالو څخه استفاده کوی،،

2- د هغه د وریښتیانو څخه استفاده کوی،

3- د هغه د نوکانو څخه استفاده کوی،

4- د هغه د ملګرو څخه استفاده کوی،

5- د هغه د طبعیت څخه استفاده کوی،

## د جادو لپاره د جادګرانو طریقی

جـادوګران او کوډرانـو چـی کلـه پـه یـو چـا کـوډې کوی نو د لاندې طریقو څخه کار اخلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- دوی ځنــــی شــیطانی کلمـــات پـــه مخصــوص شـمیر کـی وایـی کلـه چـی پـای تـه ورسـیږی نـو دوی پـــه تصـــور کـــی یـــو شـــی راولـــی ددوی دا تصــور پــر هغــه شــخص تــاثیر کــوی چــی دوی غـواړی کـوډې پـه وکـی، دا څـه عجبـه خبـره نـه ده د کنـــدهار یـــو مولـــوی صـــاحب عنایـــت الله وایــی چــی مــا پــه یــو مجلــه کــی ولیــدل چــی پــه یهـودو کــی یــو غــټ کــوډګر وو هغــه خلکــو تــه وویــل چـــی زه یــو څــو کلمـــات وایــم تــر هغــه وروسـته چـی زه هـر څـه وایـم هغـه بـه پـه راډیـو کــی ږغیــدونکی نفــر هــم وایــی دوی وایــی چــی مــوږ راډیـــو چلانـــده کـــړه دا جـــادوګر چـــی کلـــه هغـه خپـل کلمـات خـلاص کـړل تـر هغـه وروسـته چـی بـه یـی هـر څـه ویـل هغـه بـه پـه راډیـو کـی هغـــه د راډیـــو ویانـــد هـــم ویـــل، دا د بزرګـــی، پیــری او شــیخی علامــه نــه ده بلکــی دا د جــادو او کوډو یو ډول دی،

2- ځنـــی وخـــت همـــدا شـــیطانی کلمـــات لیکـــی یـــا هـم د قرانکـریم تـوری یـا د ملایکـو نومـان پـر یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورقه لیکی او هغه په اور کی سوځی یا هم یی په غوړو کی ایشوی،

3- ځنی وخت دوی په کوډو کی د تورو مرچو څخه هم زیات کار اخلی،

## د جادو او کوډو کولو حکم

د شرعی له پلوه سحر کول کبیره (لویه) ګناه ده او عقیده ورته ساتل کفر دی کوډې کوونکی ته پر اسلام پاتیدل ناشونی دی ځکه الله جل جلاله فرمایی:

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِينُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هٰرُوتَ وَمٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتّٰى يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَضُـــــرُّهُمْ وَلَا يَـــــنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَــــدْ عَلِمُـــــوا لَمَــــنِ اشْـــــتَرَاهُ مَــــا لَــــهُ فِــــى الْءَاخِــــرَةِ مِــــنْ خَلَــــقٍ ۚ وَلَبِـــئْسَ مَـــا شَـــرَوْا بِـــهِۦٓ أَنفُسَـــهُمْ ۚ لَـــوْ كَـــانُوا يَعْلَمُونَ.[سُوۡرَةُ البَقَرَة : 102]

ژبـــاړه: او پـــه دې لـــړ کـــې يـــې د هغـــو شـــيانو پيـــروي وکـــړه، چـــې شـــيطانانو د ســـليمان (ع) د ســـلطنت د نـــوم پـــه اخيســـتلو وړانـــدې کـــول. پـــه داســـې حـــال کښـــې چـــې ســـليمان (ع) هيڅکلـــه کـــافر ســـوی نـــه و، او د کفـــر مـــرتکبين خـــو هغـــه شـــيطانان وه چـــې خلکـــو تـــه يـــې کـــوډې ښـــوولې، هغـــوی هغـــه څـــه تعقيبـــول چـــې پـــه بابـــل کښـــې پـــر دوو پرښـــتو هـــاروت او مـــاروت نـــازل ســـوي وه. پـــه داســـې حـــال کښـــې چـــې هغـــو (پرښـــتو) بـــه چـــې هـــر کلـــه چـــا تـــه هغـــه ښـــودل، نـــو لـــومړی بـــه يـــې پـــه ډاګـــه دا خبـــره ورتـــه کولـــه: "ګـــوره! کـــه مـــوږ يـــوازې د ازمېښـــت لپـــاره يـــوو، نـــو مـــه کـــافر کيـــږه." - بيـــا هـــم دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو له هغو څخه هغه څه زده کول چي په هغو سره د مېړه او ښځې تر منځ بېلتون راولي. ښکاره وه چي د خدای له اجازې پرته هغوی په دې وسیله هیچا ته هم ضرر نشو رسولای؛ خو له دی سره سره يې داسي څه زده کول چي په خپله د هغوی له پاره ګټور نه؛ بلکې زیان وه. او هغوی ته ښه معلومه وه، چي که څوك ددې شي خريدار سي، د هغه لپاره په اخرت کي هيڅ ونډه نسته. څومره ناکاره سودا ده چي د هغې په بدل کښي هغوی خپل ځانونه خرڅ کړل؛ کاشکې هغوی وربانديې پوهيدلای.

د پورتنی آيات څخه په څرګند ډول معلوميږی چي الله جل جلاله د سحر او کوډو څخه په کفر تعبير کړيدی،

ددې ناوړه عمل په اړه حضرت بجالة رضی الله تعالٰی عنه د رسول الله صل الله عليه وسلم څخه روايت کوی چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رســـول الله صـــل الله عليـــه وســـلم وفرمايـــل: د ســـحر او كـــوډو كـــونكى ســـزا دا ده چـــى ســـر يى په توره ووهل سى. { رواه ترمذى}،

حضـــرت بجالـــة رضـــى الله تعـــالٰى عنـــه وايـــى: مـــوږ تـــه د حضـــرت عمـــر فـــاروق رضـــى الله تعـــالٰى عنـــه د شـــهادت يـــو كـــال مخكـــى يـــو مكتـــوب راغلـــي ده مبـــارك پكښـــى ليكلـــى وه چـــې هـــر ســـحر او كـــوډې كـــونكى نارينـــه او ښـــځه ووژنـــئ. {رواه البخارى}،،

د حضـــرت ابـــو موسٰـــى اشـــعرى رضـــى الله تعـــالٰى عنـــه څخـــه روايـــت دى چـــى رســـول الله صـــل الله عليـــه وســـلم فرمـــايلى دى: درى كســـان الله جـــل جلالـــه جنـــت تـــه نـــه داخلـــوى لـــــومړى شـــــراب چيښـــــونكى، دوهـــــم د وصـــــيلى پريكـــــونكى، دريـــــم د ســـــحر او كوډو تصديق كونكى. {رواه امام احمد}،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضـــرت حفصـــه وايـــی چـــی رســـول الله ص وفرمايـــل: څـــوک چـــی کـــوډګر تـــه ورســـی کتنـــه (د غيبـــو) حـــال ځنـــی وپوښـــتی نـــو ددی کـــس لمـــونځ تـــر څلويښـــتو ورځـــو پـــوری نـــه قبليږی، (مسلم)

رســـــول الله ص فرمـــــايلی دی: کـــــوم کـــــس چـــی د کـــوره څخـــه د کـــوډګر تـــه د ورتلـــو پـــه نيـــت ووځـــی نـــو د ســـره څخـــه يـــی ايمـــان والـــوزی او کـــه يـــی د هغـــه پـــه کتنـــه او يـــا د غيبـــو پـــه ويلـــو بـــاور وکـــی نـــو دا کـــس کـــافر دی ( مسند احمد) (سنن ترمذی)،

حضـــرت ابـــو هريـــرة رضـــی الله تعـــالٰی عنـــه وايـــی چـــی رســـول الله صـــل الله عليـــه وســـلم وفرمايـــل: کـــم کـــس چـــی کـــوډګر تـــه ورســـی او د هغـــه ښـــودل ســـوی خبـــری يـــی رښـــتيا وګڼلی......نـــو هغـــه منکـــر او بيـــزاره ســـو د هغـــه کتـــاب نـــه چـــی نـــازل ســـويدی پـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمـــد صــل الله علیـــه وســـلم بانـــدی { احمـــد، ابو داود}،

ابـــوبکر جســـاس رحمـــت الله علیـــه ابـــو منصـــور اتریـــدی او ځنـــی نـــور علمـــاء کـــرام مطلـــق ســـحر او کـــوډې کفـــر بـــولی چـــی کـــونکی او اخیســـتونکی یـــی کـــافر دی دوی ددی ایـــت څخـــه دلیـــل وړانـــدی کـــوی چـــی الله وایـــی: وَمَـــا كَفَـــرَ سُـــلَيْمَٰنُ وَلَٰكِـــنَّ الشَّـــيَٰطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ،

چـــی وایـــی ســـلیمان علیـــه ســـلام کفـــر ( ســـحر او کـــوډې) نـــه دی کـــړی خـــو شـــیطانانو کفـــر وکـــی او ســـحر او جـــادو یـــی خلکـــو تـــه ور وښوی،

البتـــه ځنـــی نـــور علمـــاء وایـــی چـــی کچیـــری یـــو کـــوډګر یـــا ســـاحر پـــه کـــوډو کـــی یـــو داســـی کلمـــات وویـــل چـــی هغـــه د کفـــر کلمـــات وه یـــا هـــم د الله ســـره د شـــریک نیولـــو کلمـــات وه نـــو پـــه دی ســـره دا کـــس کـــافر کیـــږی یـــا هـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـــیطانانو پـــه ده بانـــدی یـــو کفـــری کـــار وکـــی یعنـــی د الله د دیـــن ســـپکاوی یـــی وکـــی یـــا یـــی د قـــران و پیغمبـــر ســـپکاوی وکـــی پـــه دی ســـره هـــم دا کـــس کـــافر کیـــږی او کـــه یـــی د گنـــاه کارونـــه پـــه وکـــړه نـــو دا پـــه قطعـــی ډول حرام کار ده او کبیره گناه ده،

ځنـــی کســـان چـــي د خلکـــو پـــر لاســـونو بانـــدی یـــا د لاســـو پـــر خطونـــو بانـــدی یـــا هـــم پـــه ســـتورو ســـره یـــو څـــه معلومـــه نـــو داســـی کســـان هـــم پـــه دی ســـاحرانو کـــی راځـــی داســـی کســـانو تـــه ورتـــگ قطعًـــا حـــرام کـــار دی او عقیده ورته لرل کفر دی،

## هغه تعویذونه چی معنا یی نه وی معلومه


هغـــه تعویذونـــه چـــی معنـــا یـــی نـــه وی معلومـــه کـــول یـــی حـــرام دی او کبیـــره گنـــاه ده یـــا داســـی چـــی معنـــا یـــی معلومـــه وی خـــو کفـــری الفـــاظ وی دا هـــم حـــرام او د کفـــر د مرتکـــب کیـــدو ســـبب کیـــږی ځکـــه داســـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعویذونـــــه زیـــــاتره کـــــوډګران او ســـــاحران کوی،

## د کوډو ځو نمونې

ددي لپـــاره چـــی ددی ورانکـــاری ډلـــی پـــه اړه پـــوه ســـو نـــو د نمـــونی لپـــاره بـــه د کـــوډو ځو نمونی وړاندی کم.





(c) ketabton.com: The Digital Library









(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه څه چې د سحر (جادو) څخه ځان په ساتل کيږي

1- ټول فرائض او واجبات ادا کول، له ټولو محرماتو ځان ژغورل او له ټولو ګناهونو څخه توبه ايستل.

2- په کثرت سره د قرآن کريم تلاوت کول، هره ورځ بايد د قرآن کريم يو جزء (يوه پاره) تلاوت کړل سي.

3- آيت الکرسي له هر فرض لمانځه څخه وروسته، د خوب پر وخت، او د سهار او ماښام پر وخت لوستل.

4- معوذات (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ...، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ...، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې درې ځلـــې ســـهار، ماښـــام او د خـــوب پر وخت لوستل.

5- د ســـهار او ماښـــام اذكـــار، لـــه فـــرض لمانځـــه وروســـته اذكـــار، او د خـــوب پـــر وخـــت اذكـــار پـــه پابنـــدۍ ســـره ويـــل. (البخـــاري، مســـلم، الترمـــذي، ابـــوداود، الحاكم)

6- د امكـــان پـــه صـــورت كـــې د ســـهار پـــه نهـــاره اووه دانـــې عجـــوة خورمـــا خـــوړل، نبـــي صـــلى الله عليـــه وســـلم فرمـــايي: څـــوك چـــې ســـهار اووه دانـــې عجـــوه وخـــوري هغـــو تـــه بـــه پـــدې ورځ كـــې زهـــر او ســـحر څـــه زيان و نه رسوي. (البخاري، مسلم)

يادونـــه: د امـــام مســـلم پـــه يـــو روايـــت كـــې د مـــدينې منـــورې عامـــه خورمـــا ذكـــر ســـوې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعضـــــي علمـــــاؤ نظـــــر دا دی چـــــې هـــــره خورمـــــا وخـــــوړل ســـــي د الله جـــــل جلالـــــه څخـــــه اميـــــد دی چـــــې دا فايـــــده بـــــه پـــــرې مرتبـــــه سي.

کـــــه چيـــــری پـــــه چـــــا ســـــحر وســـــي نـــــو هغـــــه (مريض) دي لاندې لاره اختيار کړي:

1- غالبـــــا ســـــاحران چـــــې کلـــــه ســـــحر کـــــوي نـــــو پـــــه يـــــوه جامـــــد او محســـــوس تـــــوکي يـــــې کـــــوي او بيـــــا هغـــــه چيـــــري پـــــټ ايـــــږدي او غـــــوټې ورکـــــوي ، نـــــو د ســـــحر لـــــه منځـــــه وړلـــــو تـــــر ټولـــــو مـــــؤثره لاره دا ده چـــــې د امکـــــان پـــــه صـــــورت کـــــې پـــــه مباحـــــه طريقـــــه هغـــــه شـــــی پيـــــدا او ضـــــايع کـــــړل ســـــي. (فـــــتح البـــــاري، زادالمعاد)

2- د شرعي دم په ذريعه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــورتني آيتونـــــه او مســـنون اذكـــار د (لـــه ۱ څخـــه تـــر ۱۵ پـــورې) ولوســـتل ســـي او پـــه مـــريض دي پـــه پـــورتنی طريقـــه چـــف كـــړل سي.

3- د امكـــان پـــه صـــورت كـــې دې د ســـدر (بيـــرې) شـــنې پـــاڼې و كوټـــل ســـي او د غســـل انـــدازه اوبـــو كـــې دي واچـــول ســـي (كـــه ســـدر نـــه وي نـــو ســـاده اوبـــه كفايـــت كـــوي) او د پورتنيـــو آيتونـــــو (فاتحــــــه، آيـــت كرســـــي، معـــوذات) ســـربيره دي لانـــدې آيتونـــه هـــم پـــه ولوســـتل ســـي، او لـــه هغـــې اوبـــو څخـــه دي مـــريض (مســـحور) يوڅـــه وڅښـــي او پـــه پـــاتې دي غســـل وكـــي، كـــه ضـــرورت ســـو نـــو څـــو واره دي دا طريقـــه تكـــرار كـــړي، إن شـــاءالله شـــفاء يـــاب بـــه ســـي. (فـــتح البـــاري، مســـلم، مصـــنف عبـــدالرزاق، زادالمعـــاد، فـــتح المجيـــد، فـــتح الحـــق المبين...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه ایاتونه دا دي:**

1- ﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ﴾ [الاعراف : ۱۱۷، ۱۲۲]

2- ﴿وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٖ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ﴾ [یونس : ۷۹، ۸۲]

3- ﴿قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حِبَـــالُهُمۡ وَعِصِـــيُّهُمۡ يُخَيَّـــلُ إِلَيۡـــهِ مِـــن سِـــحۡرِهِمۡ أَنَّهَـــا تَسۡـــعَىٰ فَـــأَوۡجَسَ فِـــي نَفۡسِـــهِۦ خِيفَـــةٗ مُّوسَـــىٰ قُلۡنَـــا لَا تَخَـــفۡ إِنَّـــكَ أَنـــتَ ٱلۡأَعۡلَـــىٰ وَأَلۡـــقِ مَـــا فِـــي يَمِينِـــكَ تَلۡقَـــفۡ مَـــا صَـــنَعُوٓاْۖ إِنَّمَـــا صَـــنَعُواْ كَيۡـــدُ سَـــٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِـــحُ ٱلسَّـــاحِرُ حَيۡـــثُ أَتَـــىٰ﴾ [طـــه : ٦٥، ٦٩]

4- بِسۡـــمِ ٱللَّهِ ٱلـــرَّحۡمَٰنِ ٱلـــرَّحِيمِ ﴿قُـــلۡ يَٰٓأَيُّهَـــا ٱلۡكَٰفِـــرُونَ لَآ أَعۡبُـــدُ مَـــا تَعۡبُـــدُونَ وَلَآ أَنـــتُمۡ عَٰبِـــدُونَ مَـــآ أَعۡبُـــدُ وَلَآ أَنَـــا۠ عَابِـــدٞ مَّـــا عَبَـــدتُّمۡ وَلَآ أَنـــتُمۡ عَٰبِـــدُونَ مَـــآ أَعۡبُـــدُ لَكُـــمۡ دِيـــنُكُمۡ وَلِـــيَ دِيـــنِ﴾ [الكافرون : ١، ٦].

الله دی مـــو ددی شـــریرو او بـــد ذاتـــو خلکـــو لـــه شـــره وســـاتی متاســـيفانه وبـــه وايـــم چـــی اوس بيخـــی زيـــات بنـــځې او ځوانـــان پـــه دی نـــاروا کـــارو اختـــه دی العيـــاذ بـــالله الله تـــه بـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یـــی دومـــره عقیـــده نـــه وی ســـمه لکـــه کـــوډګر ته الله دی د نیـکو هدایت راته وکړی.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد واله و اصحابه اجمعین.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په کتاب کی د ځینو جملو مأخذونه

تعلیم الاسلام وبیپانه

مشکوة شریف

لوی ګناهونه د دوږخ لمبی دي

د کندهاری مولوی عنایت الله صاحب بیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**